Australian Government

BE COVIDSAFE

# کوویډ – 19: د علایمو پیژندل

| علایم | کوویډ – 19<br>علامې یې تت نه نیولي ترتیز پورې دي | ساړه<br>د علامو په کراره پیل | زکام<br>د علامو ناڅاپي پیل | حساسیتونه*<br>د علامو ناڅاپي یا په کراره ښکاره کیدل |
|---|---|---|---|---|
| تبه | عام | لږ | عام | نه |
| ټوخی | عام | عام | عام | عام (ساه بندي) |
| د ستوني درد | ځیني وختونه | عام | ځیني وختونه | ځیني وختونه (د ستوني او تالو خارښت) |
| د ساه لنډیدل | ځیني وختونه | نه | نه | عام (ساه بندي) |
| ستړیا | ځیني وختونه | ځیني وختونه | عام | ځیني وختونه |
| خوږیدل او دردونه | ځیني وختونه | نه | عام | نه |
| سر درد | ځیني وختونه | عام | عام | ځیني وختونه |
| د پزې بهیدل یا ډکیدل (بندیدل) | ځیني وختونه | عام | ځیني وختونه | عام |
| نسبهنه | ندرت | نه | ځیني وختونه، په ځانګړي توګه ماشومان | نه |
| پرنجی | نه | عام | نه | عام |

*د دې لاندې بنسټونو لخوا تولید شویو موادو نه اخیستل شوی: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO)؛ د امریکا متحده آیالاتو د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز؛ او د امریکا د الرژي، ساه بندي او معافیت اکاډمي. *په تنفسي حساسیتونو کې شامل دي الرژیک پړسوب (د حساسیت له مخې تبه)، او الرژیک ساه بندی. د حساسیت له مخې تبې او زکام نورو عام علامو کې د پزې خارښت او د سترګو اوبه کول شامل دي. د کوویډ-19، انفلوینزا او سړو (زکام) د علایمو ترمینځ توپیر کول ډیر مشکل دي. که تاسې کوم عفونیت یا تنفسي علایم لرئ (لکه د ستوني درد، سردرد، تبه، ساه لنډی، د عضلاتو درد، ټوخی یا د پزې بهیدل) نو کار ته مه ځئ. تاسې اړ یی ځان تجرید کړئ او ډاکټر مو معاینه کړي. تاسې ممکن د کوویډ – 19 لپاره معاینې ته اړتیا ولرئ. تاسې باید تر هغه وخت پورې کار ته ستون نشئ چې ډاکټر اجازه درنکړي. تاسې اړ یی داډ لاسته راوړئ هغه خلک چې تاسې یې په اړه اندیښنه لرئ محفوظ او خوندي اوسي. هغه خلک چې د تنفسي حساسیت علایم لري لکه الرژیک پړسوب (د حساسیت له مخې تبه) او الرژیک ساه بندی هغوی باید د علامو په پیل کیدو سره په کور پاتې شي او د کوویډ – 19 لپاره معاینه وکړي او که چیرې هغوی علامې ولري چې تمه یې نه کیده، مختلف ښکاره شي یا د معمول نه خراب شي، یا د هغوی عادي درمل درباندې اغیزه ونلري.

**د کورونا ویروس (کوویډ – 19)** په اړه د نورو معلوماتو لپاره **health.gov.au**
ته ورشئ د **www.health.gov.au/resources/translated**نه لیدنه وکړئ یا د لیکژباړې او ژبژباړې خدماتو لپاره **131 450** ته ټلیفون وکړئ.

DTDT000045